هاري واشنګټن ۱۲/۰۷/۲۰۰۹

# د دوستم د جنګي جناياتو دوسيه

د جنګي مجرمانو سره د ښاغلي حامد کرزي وروستيو ايتلافونو په امريکايي مطبوعاتو کي زياتي اندېښني را پورته کړيدي. اکثره رپوټونه وايي چي ښايي همدا ايتلافونه د حامد کرزي په تاوان تمام سي، ځکه زياتره افغانان د ديرش کلن ناورين له قومندانانو څخه بدي خاطرې لري، او اکثره خلک د هغوی محاکمه کول غواړي. په يوې ټولني کي، د عدالت احساس د قانون د حاکميت، د مشروعيت، او د دايمي سولي او ثبات د ټينګېدو لمړۍ پخه خبنته ده. په مقابل کي، که چيري په يوې جامعي کي د عدالت احساس نه وي، هغه ټولنه تل بې ثباته او ناکراره وي. عدالت ته د جنګي مجرمانو راکشول د جنګي شرايطو، بديو، او احساس د ختمولو لپاره ضروري کار دی. د انصاف او عدالت د ټينګولو لپاره هر وخت او هر ځآی مناسب دی. په يوې جنګځپلي جامعي کي، د ملي روغي جوړي او يوموټي کېدو د پروسي د تقويه کولو لپاره د جنګي جنايتکارانو محاکمه کېدل پراخ رغونکي اثرات لري. په ټولنه کي ملي وحدت، برابري، اعتماد، او ورورولي راولي. پدې ترتيب، په افغانستان کي د ټولو جنګي جنايتکارانو محاکمه ضروري ده، خو عبدالرشيد دوستم عدالت ته راکشول يو ملي او ايماني فرض دی. هغه د افغانستان په معاصر تاريخ کي مستند او ثبت سوي جنايات کړيدي. د دوستم نه محاکمه کول په عدالت، انصاف، او د قانون په حاکميت باندي ملنډي وهل دي. همدا راز، هغه ته په حکومت کي لوړ مقام ورکول په دولت، حکومت، او سياسي اتوريټي باندي مسخرې کول دي. پدې اونۍ کي د ګردو رپوټونو لنډيز ولولئ.

د نيويارک ټايمز اخبار د جولای پر ۱۱ مه ليکي: د بشرد حقوقو موسسي او د متحده ايالاتو ځيني مامورين وايي د بش اداري څو څو ځله د امريکا په ملاتړ د هغه افغان جنګ سالار د جنګي جناياتو د څېړونو مخه ونيوله چي ښايي په زرهاوو خلک يي په ډله ايزه توګه قتل عام کړي وي. متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت ځيني مامورين وايي د بش اداري نه غوښتل چي د عبدالرشيد دوستم پر خلاف د بشري حقوقو د موسساتو له تحقيقاتو سره همکاري وکړي ځکه دوستم د سي. اي. ې معاشخوره وو، او د هغه مليشاوو د امريکا د خاصي قوې سره د طالبانو په تعقيب کي همکاري کوله.

د نيويارک ټايمز ورځپانه اضافه کوي دا لا څرګنده نده چي د اوباما اداره به کله دې مسلې ته پوره توجه وکړي. مګر پدې وروستيو اونيو کي د خارجه وزارت مامورينو هڅه کړېده چي د جنرال دوستم د پوځ لوی درستيز کېدو مخه ونيسي. د متحده ايالاتو بهرنيو چارو د وزارت مامورين وايي د اوباما اداره د دوستم پرخلاف د څېړنو د پيلولو مخالفه نه ده.

اخبار وايي د دشت ليلي قتل عامونو ښايي د ۲۰۰۱ راپدې خوا تر ټولو پراخ ډله ايزي وژني او قتلونه وي. پدې جنګي جنايت کي د دوستم لاس په داسي وخت کي رابرسېره کېږي چي هغه د حامد کرزي مهم ملګری دی. د جنګي جناياتو د څېړولو لپاره د متحده ايالاتو پخوانی سفير ښاغلی پراسپر وايي: "که چيري تاسو دوستم بېرته حکومت ته راولئ، دا به ضرور پر ډيموکراسۍ، پر حکومت او هم د خلکو پر اعتماد باندي اغېزه وښندي. هغه ټينګار کوي چي د اوباما حکومت بايد هرو مرو د ۲۰۰۱ د قتل عامونو په اړه تحقيقات شروع کړي. هغه زياتوي، "د انصاف او عدالت لپاره هر ځآی او هر وخت مناسبه موقع او ځآی دی ."

نيويارک ټايمز ليکي په داسي حال کي چي د افغانستان په ارتباط د اوباما حکومت تعهد لا زيات سوی دی، خو په عين زمان کي يې د حامد کرزي له حکومت سره فاصله ورځ په ورځ زياتېږي، ځکه د حامد کرزي حکومت نهايت منفور او فاسد دی. د بهرنيو چارو مامورين وايي مېرمن کلنټن او د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا خاص استازي ښاغلی هولبروک حامدکرزي ته ويلي دي چي د دوستم د بيا راتګ او مقرريدو سره مشکلات لري. يو امريکايي مامور وايي هر څوک چي په جنګي جناياتو تورن وي بايد پوره وڅېړل سي. د متحده ايالاتو د خارجه وزارت د ۲۰۰۲ يو سند وايي د دشت ليلي په قتل عامونو کي په زرهاوو طالبان وژل سوي ول. په ۲۰۰۸ کي د ملګروملتونو يوې ډلي څېړونکو د ډله ايزو قبرونو د اثارو د خرابولو او ورکولو هڅي کشف کړې. د سټلايټ عکسونه ښيي چي په ۲۰۰۶ کي د دشتي ليلي د ډله ايزو قبرونو خرابول پيل سوي ول.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.

نیویارک ټایمز لیکي د بش په پیر کي د دوستم د جنګي جنایاتو په باب د تحقیقاتو د پرانیستلو غوښتني په حکومت کي ډیر لږ پلویان لرل. د پنتګان مامورینو هڅه کوله چي د دوستم پر خلاف د هر راز اقدام مخه ونیسي. هغوی ویل: اوس ډیر حساس وخت دی، او یا اوس ددې خبرو وخت ندی.

د متحده ایالاتو پخوانی سفیر ښاغلی پراسپر وایي د حامد کزري حکومت راته ویل چي د دوستم پر خلاف د هرراز اقدام مخالف دي. هغه اضافه کوي په واشنګټن هم د سخت مخالفت سره مخامخ وو. په ۲۰۰۲ کي، خلیلزاد په ډاګه ورته وویل چي د دوستم په اړه د تحقیقاتو سره موافق ندی. هغه وایي زه مجبوره سوم چي د څیړنو غوښتنه پریږدم. هغه په ۲۰۰۵ کي د بش حکومت پریښود.

بلخوا، د یو ایس نیوز مجله پخپل ویب سایټ کي د جولای پر ۱۰ مه لیکي: قریب ٤۰۰۰ مرین عسکر په هلمند کي د طالبانو پر خلاف نظامي عملیات پیل کړیدي. ناتو پدې سیمه کي څو ځله مخکي هم جنګونه کړي او هم يې تلفات ورکړي، او کله چي دوی لدې ځایونو څخه ووتل، سمدستي طالبانو همدا سیمي بیرته ولکه کړې. د برتانیې عسکر همدا نیمګړي عملیات د چمن د وښو له ریبولو سره مقایسه کوي. خو بیا هم د کندهار او هلمند زیاترو سیمو ته د ناټو عسکر ګردسره ورغلي ندي. له پاکستان څخه طالبان ګرمسیر ته اوړي او بیا سیده په هلمندکي تېرېږي او روزګان ته ځي.

د ۲۰۰۸ د مي میاشتي کي، امریکايي مرین عسکروګرمسیر ونیو. خو وروسته پنتګان د عسکرو دکمښت له لبکه ګرمسیر انګریزي قواوو ته پرېښود. خو دا ځل، مرین عسکر هلمند ته د نیولو، پاکولو او ساتلو په نیت ورغلي دي. امریکايي قومندانان وایي اضافه او تازه دمه عسکرو ته اړتیا لري. امریکايي قومندانان وایي دا معلومه نده چي په راتلونکو اونیو کي به ددې سیمي په کلیو او ښارګوټو کي د څه راز شیانو سره مخامخ سي.

بلخوا، د ګارډین اخبار د جولای پر ۹ مه لیکي په افغانستان د متحده ایالاتو یو عالي رتبه قومندان وایي که چیري حامد کرزی بیا انتخاب سي، عادي افغانان به تشدد او پاڅون ته اړسي. هغه وایي خلک نهایت ناراضه دي ځکه حکومت هیڅ ندي کړي. کله چي خلک لدې واقعیت سره مخامخ سي چي بدلون نه راځي، او همدا نظام به د پنځو نورو کلونو لپاره زغمي، هله ددې امکان سته چي عام ناراضیت او بېزاري په عام تشدد او تباهي بدله سي.

ګارډین ادامه ورکوي او لیکي که څه هم حامد کرزي پدې څو میاشتو کي د مختلفو جنګسالارانو سره ایتلافونه کړي، مګر پوښتنه دا ده چي ایا همدا جګړماران به د حامد کرزي د بیا انتخابېدو لپاره په کافي اندازه رایي راغونډ کړای سي او کنه؟ او که به عادي افغانان چي له اوسني رژیم څخه ستړي او ستومانه دي، د حامد کرزي مخالف کاندید ته رایه ورکړي.

ګارډین وایي د جمهوري ریاست کاندید اشرف غني به ښایي ډیر ژر په انتخاباتي غونډو او سفرونو ووځي. مګر هغه رسمي باډي ګارډان، د سفرونو لپاره هیلکوپټر، او د تبلغیاتي کمپین لپاره په کافي اندازه تیلویزیون ته لاسرسی نلري. هغه وایي افغانان ښه، مسول، او موثر حکومت غواړي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسؤلیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.